مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری
۲۰۲۵/۱۱/۲۴

# آیا محمد اشرف غني د بیا راڅرګندېدو په درشل کې دی؟

## لنډیز

د ۲۰۲۱م کال د اګست له سیاسي بدلون وروسته د افغانستان سیاسي فضا له بې‌ثباتۍ، د بدیل له نه‌موجودیت، او ژور ستراتیژیک تشویش سره مخ ده. په دې ګډوډ وضعیت کې د پخواني ولسمشر محمد اشرف غني تازه څرګندوني یو ځل بیا د هغه د احتمالي بیا راڅرګندېدو بحث ژوندی کړی دی. دا مقاله د دغي پوښتني د ځواب لپاره قضیه د درېیو اساسي زاویو له مخې علمي ارزوي:

۱. د غني خبرې، سیاسي مشروعیت او موقعیت؛
۲. د طالبانو، پاکستان او سیمه‌ییزو لوبغاړو محاسبات؛ او
۳.د نړیوال فشار، د طالب ضد جریانونو او احتمالي بدیل جوړوني عوامل.

تحلیل ښیي چې نه غني د واک د بیا نیولو لپاره عملي بستر لري، نه طالبان د هغه بېرته ستنېدو ته لېواله دي، خو په عین حال کې نوموړی هڅه کوي خپل نوم د احتمالي سیاسي نظم د فکري یا سمبولیک محور په توګه ژوندی وساتي.

## ۱ .سریزه

په تبعید کې سیاست کول د هغو رهبرانو ځانګړنه ده چې واک له لاسه ورکوي، خو د سیاسي نقش د دوام هڅه نه پرېږدي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې دا یوه تکرارېدونکي پدیده ده؛ له امان‌الله خان نیولې د جهادي تنظیمونو تر مشرانو پورې، ټولو د بهرنیو مرکزونو له لارې د سیاست کولو سلسله تجربه کړې ده. د اشرف غني تازه پیغامونه هم په همدې معادله کې ځای نیسي او پوښتنه راپورته کوي چې ایا نوموړی غواړي یو ځل بیا په عمل کې د سیاست پر ډګر راڅرګند شي؟

د ځینو معتبرو رسنیو- په ځانګړي ډول د ۸صبح تحلیلي څېړنو- له مخې د غني وروستي څرګندوني په درېیو بېلابېلو سناریوګانو تعبیرېږي:

۱. ښایي غواړي، طالبانو ته یو ډول مشروعیت‌بخښونکی درېځ ولري؛
۲. یا ممکن د پاکستان د احتمالي ستراتیژیکي وسیلې په توګه مطرح شي؛
۳ او یا د طالبانو د مخالفو ګروپونو د یووالي د محور په توګه ځان وړاندې کړي.

دا مقاله په بې‌طرفه او علمي تحلیل سره همدا درې ګوني دعواوې ارزوي.

## ۲ .د غني سیاسي مشروعیت او د بیا راتګ امکانات

### ۲.۱ .مشروعیتي بحران او د روایت جګړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

پخواني ولسمشر اشرف غني د ۲۰۲۱ کال له سقوط سره د پخواني مشروعیتی کمبود پر سر، له یوه بل ژور مشروعیتي بحران سره هم مخامخ شو. د طالبانو پر وړاندې د نظام د چټک سقوط، له ارګ څخه د نوموړي وتل، او د پوځ د مقاومت نشتوالی تر ټولو جنجالي ټکي دي. خو دا بحران دوه اړخونه لري: سیاسي مشروعیت او ټولنیز محبوبیت.

## 1 . سیاسي مشروعیت

د اشرف غني سیاسي مشروعیت په هغه قشرونو کې چې د ښاري منځنی طبقې، غیرپښتنو قومونو او جمهوریتپالو اصلاح غوښتونکو حلقو استازیتوب کوي؛ تر ډېره زیانمن شوی و. پخپل لاس کې د واک بیحده تمرکز، د سیاسي مشارکت د محدودولو تګلاره، د ټول ټاکنو د شفافیت پر سر شخړې، او د حکومت په وروستیو کلونو کې پراخه اداري بېثباتي د دې سبب شول چې په دغو قشرونو کې د هغه پر سیاسي اعتبار شکونه زیات شي. په ځانګړي ډول د ۲۰۱۹م کال د انتخاباتي کړکېچ پر مهال، د دوهګوني حکومت اعلان د جمهوریت د مشروعیت ادعاوې خورا کمزورې کړې او د سیاسي اعتماد ټینګښت یې لا ستونزمن کړ. د سیاستپوهني له نظره، کله چې د مشروعیت سرچینې (ټاکنې، مشارکت، او حساب ورکونه) په یوه نظام کې متزلزل شي، رهبر د ټولنیز قرارداد هغه برخه له لاسه ورکوي چې د واک د دوام بنسټ جوړوي.

له بلې خوا، د نشنلیزم د ځینو نرمو بڼو سره د غني فکري تړاو د هغه د حکومتي ګمارنو او پالسیو په تعبیر کې داسې تفهیم شو چې ګواکې واک ته یې قومي تمرکز ورکړی دی؛ دا برداشت په غیرپښتنو ټولنو، په ځانګړي ډول د شمال او مرکزي ولایتونو په سیاسي حلقو کې شدیده نارضایتي راوپاروله. حتی هغه اصلاحپال ښاري قشرونه چې په ۲۰۱۴م کال کې یې غني د تخنیکي ـ اداري اصلاحاتو سمبول باله، وروسته په دې باور شول چې د واک د تمرکز سیاست د جمهوریت د پلورالیزم له اصولو سره په ټکر کې دی. دا ټول عوامل سره یوځای د هغه د سیاسي مشروعیت د سربښت یا کمزورۍ له مهمو محرکاتو څخه وو.

## 2 . ټولنیز محبوبیت

د غني ټولنیز محبوبیت په قومي او تاریخي جغرافیاوو کې په خورا متفاوت ډول درک شوی. په یو شمېر پښتني سیمو، په تېره بیا په ختیځو او جنوبي ولایتونو کې، د هغه په اړه د خلکو چلند په څرګند ډول د کرزي، رباني او یا نورو سیاسي او تنظیمي مشرانو سره توپیر لري. په دې سیمو کې د غني په اړه یو ډول نرم تاریخي برداشت موجود و، چې د هغه د قومي تعلق او د ډیورنډ کرښې، هویت او ملي حاکمیت په اړه د هغه د ژبې د سختۍ او لږ تر لږه د ظاهري څرګندولو له امله تقویه شوی و. خو د شمالي ولایتونو، مرکزي سیمو او ځانګړي تاجک، هزاره او ازبک ټولنو په سیاسي حافظه کې د غني تصویر د دولت جوړونې له هغې بنې سره تړل کیږي چې له دوی سره یې د اعتماد ګډه فضا نه لرله.

## ۲.۲ د بیا راګرځېدو لپاره عملي فکتورونه

د سیاسي علومو له نظره که موضوع وڅیړو، نو لاندې درې شرطونه د بیا راګرځېدو لپاره ضروري دي:

- **منظم تشکیلات-** غني د ۲۰۲۱ کال وروسته هېڅ منظم سیاسي تشکیلات نه دي اعلان کړي او نه کوم متحد ټیم لري.

- **سیاسي طرحه-** تر اوسه یې یوازې عمومي مفاهیم لکه "ملي اجماع" او "بدیل نظم" یاد کړي، خو تفصیلي نقشه یې نده وړاندې کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- **ایلیت یا اشرافي ملاتړ** - د جمهوریت ډېری مشران د غني پر تګلوری سخت انتقاد لري؛ که څه هم ځیني لکه امرالله صالح لا تر اوسه د هغه د نیت په اړه، تر لومړي عاجل عکس العمل وروسته، نرم دریځ لري.

د دې له مخې، په لنډه یادولای شو چې غني د ځواک د بیا نیولو لپاره نه د شروطو بشپړه مجموعه لري او نه د هغې تمایل ښکاره دی.

## ۳ .طالبان، سیمه‌ییز سیاست او د غني د ستنېدو ناممکنیت

### ۳.۱ .طالبان د غني سره د هیڅ ډول تعامل اړتیا نه لري

طالبان د خپل واک د ارزښت مشروعیت په بشپړ ډول له نظامي فتحي څخه اخلي، نه له سیاسي تسلسل څخه. په تیره بیا چې د غنی سیاسی تسلسل د کرزی د حکومت او د بن د کنفرانس د پریکړو دوام دی او دا د طالبانو عقیدوی او سیاسی مشروعیت ته ګټه نه، بلکې زیان رسوي. د طالبانو د روایت درې ټکي د غني بېرته راتګ ناممکن کوي:

**۳.۱.۱** د جمهوري نظام د سقوط اساسي عامل په جګړه کې د طالبانو "فتح" ده. امریکا یې د نظامي برياوو په پایله کې مذاکرې او د دوحې د سولې معاهدې ته مجبوره کړه. طالبان هغه وخت کابل ته ور ننوتل چې د جمهوریت نظام ماته خوړلې، له د ننه پاشل شوی، مشران یې تښتیدلي او د نظام مشروعیت څه چې پخپله د حاکمیت موجودیت یې لا نه ؤ.

**۳.۱.۲.** د پخواني رژیم د مشر بیا منل د داخلي سختدریځو له نظره د امارت د مشروعیت د کمېدو معنا لري؛ د پخواني رژیم له فسادګرو مشرانو سره د تعامل او احتمالي تفاهم بهیر به د طالبانو دا اوسنی مشروعیت او محبوبیت هم په ځمکه وولي؛ د تحریک تر منځ به اختلاف ته لمن ووهي، په حکومتي چارو کې د پخواني جمهوریت مامورین به د طالبانو د ناکامی دسیسو ته لاس واچوي او په ټولنه کې به انقطاب، نفرتونه او منفی تبلیغات رامنځته او لا ډیر شي.

**۳.۱.۳** تر اوسه طالبان په نړیواله کچه د تعامل اړتیا په خپلواکه توګه پرمخ وړي او د کوم سیاسي شریک اړتیا نه احساسوي. که دوی د داخلي او یا نړیوالو شرایطو له کبله د سیاسی شریک موجودیت ته اړتیا احساس کړي، په ټولنه کې ډیر داسي ځواکونه موندلای شي چې د پخواني د شر او فساد د رژیم په ګناهونو کې شریک نه دي؛ طالبان د شړیدلی فاسد نظام د سویو او دسیسه ګرو مهرو سره د شراکت ټکي او د یوځای کار کولو متقاطع نقاط نه لري.

### ۳.۲ .پاکستان او د بدیل جوړوني احتمال

په پاکستان کې اوس دوې غوره اندیښني را پورته شوی دی چې یوه یې د پاکستان له ولکې څخه بهر د طالبانو مستقل فعالیت او بله یې د هندوستان خواته د طالبانو د نږدېوالي احتمال دی. له همدې کبله ممکن اسلام‌اباد د طالبانو له پاره د بدیل فشار مېکانیزمونه وپلټي. خو په دې اړوند هم د غنی د انتخاب په لار کې درې غوره محدودیتونه شته:

**۳.۲.۱. پاکستاني پوځ له غني سره د اوږدمهاله باور له کمښت سره مخ دی.**

پاکستاني پوځ له اشرف غني سره د اوږدې مودې راهیسې د باور له جدي کمښت سره مخ و. د غني د حکومت پر مهال اسلام‌اباد داسي انګېرله چې کابل د پاکستان د ستراتیژیکو حساسیتونو په ځانګړي ډول د هند – پاکستان رقابت په برخه کې د اسلام‌اباد د امنیتي اندېښنو په درک کې ناکام دی. که څه هم پاکستان د افغانستان له ډېرو رهبرانو سره محاسباتي اړیکي ساتلي دي، خو د غني پر اراده، ګامونو او سیمه‌ییزو اړیکو یې په دوامداره توګه شک درلودلی او هغه یې د یوې غیر قابل اعتماد او غیرقابل پیش‌بینی سیاسي څېرې په توګه څاره او ارزیابی کاوه.

**۳.۲.۲ غني له هندي شبکو سره اړیکي لرلې، چې اسلام‌اباد ته حساس دي.**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اشرف غني د خپلي ولسمشرۍ له پیله تر پایه په بېلابېلو بڼو د هند له سیاسي، اقتصادي او امنیتي شبکو سره نږدې اړیکي لرلې. د جمهوریت په وخت کې هند د افغانستان د دولت جوړوني ډېر ستر ملګری و، او غني د دې ملاتړ نه یوازې د پراختیایي پروژو لپاره کاراوه، بلکې په سیمه‌ییز سیاست کې د توازن د وسیلې په توګه یې هم ترې کار اخیست. دا پیوستون د اسلام‌اباد لپاره خورا حساس دی، ځکه پاکستان افغانستان د خپلې امنیتي ساحې برخه ګڼي، او هر ډول هندي حضور یې د خپلې ملي امنیتي محاسبې په مستقیم خطر بدلېږي. د دې له امله، هغه کسان چې اسلام‌اباد د بدیل په توګه ارزوي، معمولاً باید په سیمه‌ییزه معادله کې د هند له نفوذ څخه لرې وګڼل شي ـ یو شرط چې غني ورسره په بشپړ ډول سمون نه خوري.

### ۳.۲.۳ په پاکستان کې د ننه د طالبانو د پټ فعالیت امکانات او د غنی پرمخ ستونزې

که اسلام‌اباد د طالبانو پر ضد د یوه احتمالي بدیل په توګه اشرف غني ته زمینه برابره کړي یا هغه تقویه کړي، دا کار ورته ډېر ستونځمن تماميږي. دا به د طالبانو له نظره د "دښمنی لوڅ اعلان" او د پاکستان لخوا د شړیدلی جمهوریت ننګه وګڼل شي. د طالبانو د فکري جوړښت، سازماني منطق او استخباراتي حساسیتونو په نظر، په پاکستان کې د یوه سیاسي بدیل پرورش کول هغه "سرې کرښې" دي چې تېریدل یې د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د مستقیم عکس‌العمل خطرونه لري. د دې خطرونو ځیني مهم اړخونه داسې یادولای شو:

**الف:** د سرحدي ناامنیو زیاتوالی، خصوصا دا چې پاکستان ادعا کوی چې د افغانستان د طالبانو او د پاکستاني تحریک طالبان (TTP) ترمنځ د اړیکو شبکه بشپړه نه ده پرې شوې، نو طالبان په خیبر پښتونخوا، بلوچستان او نورو سیمو کې ناامني زیاتولای شي.

**ب:** د افغانستان طالبان د ISI هر ډول "بدیل جوړوني" ته د استخباراتي تجاوز په سترګه ګوري. که غني د یوې نوې جبهې د سمبول په توګه مطرح شي، طالبان به هڅه وکړي چې په پاکستان کې د انتقامي وسایلو په توګه خپلې شبکې فعالې کړي. دا دوه اړخیزه متخاصم استخباراتي فعالیتونه د سیمي امنیت زیانمنوی، د پاکستان ثبات هم له منځه وړي او پاکستان د اوږدمهاله داخلي فرسایشی جګړو خوا ته بیایي.

**ج:** که پاکستان غني په بدیل بدل کړي، طالبان به ممکن څو ستراتیژیک ګامونه واخلي؛ په زغرده د افغانستان د اسلامی امارت د جیوپولیتیک لوري بدلول، هند ته لا په چټکۍ نږدې کېدل، د ایران او ترکیې سره امنیتي-اقتصادي تړونونه پراخول او حتی له چین سره د پاکستان په اړیکو کې زیان راوستل. په سیمه کې د طالبانو د عمل وړ کارتونه ډېر نه دي، خو هغه کارتونه چې لري، اسلام‌اباد ته د فشار ربښتیني سرچینې ګرځېدای شي.

په لنډه توګه، د طالبانو سره رسمي دښمنی ته دوام ورکول د پاکستان لپاره جیوپولیتیکي او اقتصادي زیانونه لري چې د دوو لسیزو جګړو په پرتله به هم ورته درانه تمام شي. دا اسلام‌اباد مجبوروي چې د هر احتمالي بدیل په انتخاب کې زیات احتیاط وکړي. نو د پاکستان لپاره غني **یوازې یو تاکتیکي کارت کېدای شي، نه یو ستراتیژیک بدیل.**

## ۴ .نړیوال سیاست، فشارونه او د بدیل اړتیا

### ۴.۱ .نړیوال قدرتونه څه غواړي؟

امریکا، اروپا، هند او سیمه‌ییز قدرتونه درې هدفونه لري:

- د ترهګرۍ مخنیوی
- د مهاجرت مدیریت
- د بشري حقونو د بدترکېدو د مخنیوي په خاطر په طالبانو باندې د محدود فشار ساتل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مګر دوی د نظام د بدلون لپاره نه قوي متحدین لري، نه یو منظم بدیل. همدا دلیل دی چې تر اوسه هیڅ نړیوال قدرت د غني، مقاومت، یا جمهوریتیانو په محور د بدیل جوړولو واضح طرحه نده اعلان کړې. بر عکس د امریکا د پخواني دیپلومات زلمي خلیلزاد څرګندوني هم دا خبره تاییدوي چې واشنګټن د پخوانیو جنګسالارانو د بیا واکمنۍ لپاره نظامي لاسوهنه نه کوي.

### ۴.۲ .د بدیل جوړوني داخلي خنډونه

که غني د طالب ضد اجماع د محور رول غواړي، له دغو ستونزو سره مخ دی:

- د مقاومت جبهه د هغه د تېر سیاست سخت منتقد دی؛
- جمهوریتي سیاستوال په ځلورو ټوټو وېشل شوي؛
- د قومي محورونو تر منځ اعتماد کم شوی؛
- د بدیل جوړوني لپاره مالی منابع محدود دي.

نو د بیل بدیل جوړول به د **یو واحد شخص** پر ځای د **متعددو مرکزونو** د یوې پراخې اجماع غوښتنه وکړي.

## ۵ . پایله

اشرف غني په عملي توګه د واک د بیا نیولو په کمین کې نه ښکاري. نه تشکیلات لري، نه داخلي اجماع، نه سیمه‌ییز باور، نه د مالي او تنظیمي ځواک بنسټ. طالبان د هغه ستنېدل د خپل مشروعیت لپاره زیان ګڼي، او پاکستان د هغه ملاتړ د ستراتېژیک بدیل په توګه نه شي منلی.

سره له دې، غني هڅه کوي د احتمالي سیاسي بدیل د فکري یا تنظیمي محور په توګه خپل نوم ژوندی وساتي. که راتلونکو میاشتو کې هغه له ټیکنوکراتانو، جمهوریتي پاتې جریانونو او معتدلو مقاومتګرو سره د اجماع خبرې پیل کړي، ممکن د ده رول له له جلاوطنه ولسمشر څخه د احتمالي ائتلافي مشر په لور شکل بدل کړي. خو دا به د وخت، شرایطو او سیمه‌ییزو تحولاتو تابع وي.

نورمحمد غفوری

23.11.25


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ